# د پښتو د باغ مالیار ,,پرویز شیخ،،

رشید احمد

پـرویـز شیـخ د پښتو هغه لیکوالو کښې دے چې خـلقو کښې پېژندګلو کمه لري او کار ئې د ډېـرو لیـکـوالـو نه په کم عمر کښې زیات کړے دے. پـرویـز شیـخ داسې یو نـاول نګـار دے چې پښتـو نـاول نــه ئې ادبـي دنیا کښې یو ځانګړے ځائې وربخښلے دے. د دۀ د ناولونو د قیصو اساس د دۀچاپېـرچل دے. او دا ځکه چې قیـصه زمونږ د ژونـد یـوه مهمه برخه ده. کله چې څوک تیر شوي پیښې یـا واقـعې بیـانـوي نـو په لنډو ټکو کښې ورتــه مـونږ قیـصــه وایـو. د نړۍ د ټولو مهذبو قـامونو د خپل نوي نسل د روزنې او تربیت دپاره او هـغـوئ ته د خپل تاریخ یاد ساتلو دپاره قیصې تـخلیق کولې اوبیا به سینه په سینه نوي نسـل ته رسیـدلې. که مونږ د هر قام ادب ولولو نو مونږ ته پکښې رنګارنګ قیصې لوستلو ته میلاویږي او په ادبیاتو کښې قیصه واحد توکے دے چې د وخت تیریدلو سره ئې وده کړې ده.

دې قیـصـو کــه یـو اړخ تــه تـفـریـحي مقصدلرلو نو بل اړخ ته به ئې تعلیمي او د روزنې لـوئې مـقصد په خپله لمنه کښې رانغښتلے ؤ. په دغۀ قیصو کښې که به یواړخ ته تاریخ محفوظ وو نـو بـل اړخ تــه بــه پکښې د قام ثقافت هم محفوظ شـوے وو. پــه خپـل اولـس کښې د ښو مقصدونو پیـداکـولـو دپـاره به دغه قیصې وئیلے کیدلې، د بهـادرۍ،زړورتیـا،سـخـاوت، غیرت او د قام سره میـنــه ازادي، د خپـل مـذهب لپاره قرباني، مینه، ورولي،دوستي او داسې نور ډېر خویونه خصلتونه بــه پـکښې ستـــائیـلـے شـوي وو او پــه دغــه ښو صفتونو او خؤیونو ښائسته شوي اومتصف شوي خـلـق به ستائیلے کیدل او د هراوریدونکي په زړۀ کښې بـه دغـه جـذبـه راپیدا کیدله او ځان به ئې د هیرو یا اتل په ځا لیدلو. د پښتو ټولې قیصې که اوکتـلے شي نـو هـم دغـــه دننګ، غیـرت، پت او نـامـوس قیصې دي. که مونږ خپلو مذهبي قیصؤ ته اوګورو نو هم دغه صفات لري.

د وخـــت تیـــریـدلـو، تـعـلیـم زیـاتیـدلو اوخؤریدلو، د فلم، ستیج، ریډیو اوټي وي د راتګ سـره پــه دغه قیصؤ هم اثر پریوت او د دې لیکوال په کمیدو شول او داسې وخت راغے چې اوس داسې قیـصـو وئیـلو واله نیشته او د هغې په نورو وجو کښې یوه د صنعتي ترقۍ اوپرمختګ ده چې کله صـنـعـتـي تـرقـي راغله نو د قیصو نوع ورو ورو بـدلیـدلـه او د نـوي دور او غـوښتنو سره سره هم اهـنګـه شوه. ژوند یې مشیني شو او بیا انسان د دومـره مسـئـلو سره مخ شو چې هغه د هغې دپاره قیصې هم داسې غؤښتلې چې د هغه د مسئلو حل

اوښائـي او پـه ديـومالائي قيصو کښې دلچسپي کـمـه شوه. دغه قيصو رنګ واړولو او د نوي دور سـره سـمـه قيـصـه د نـاول په شکل کښې دنيا ته ښکاره شوه. ناول د نوي دور او زمانې پيداوار دے او د وخت سره هم اهنګ دے.

د پـه مـخ تـلـلـې نړۍ اولس دې ته دومره اهـميت ورکوي چي ډير نوبل انعامونه ناول نګارو تـه ورکړے شـوي دي او د هغوئ ارزونې ئې کړي دي. د يـو پوهاند او دانشور وينا ده چي په کوم قام کښې نن صبا د ناول ليکوال کم وي او لوستونکي نـه لـري نـو دغۀ قـام د وخـت د تقاضو او غوښتنو سـره سـم د تـلـو توان نه لري. ځکه چې ناول د هغه مسـئـلې او د هـغې حـل وړانـدې کوي. په مترقي نړۍ کښې دانټــرنيټ ،ټـي وۍ اومـوبـائـيـل د سهـولـتـونوسره د ناول په لوستلو کښې کموت نه دے راغلے او اوس دې ژانر نوره وده کړې ده. ناول د ژونـد رښتيـنـي واقعات وړاندې کوي. دا که هر څـو افسانوي وي بيا هم حقيقي رنګ لري. د دې د کـرادارونـو نامې که هر څو فرضي وي ولې پيښې ئې د حـقيـقـي ژوند نه اخستلے شي.ناول يو لائې سټيـج وي چـي د ډرامې،افسـانې،قيصې او بيـان خـؤاږه لـري.ځـکـه خـو زړۀ راښـکونکے وي او د لوستونکي دلچسپي پکښې زياته وي.

کله چي خدائي خدمتګارو د پښتون قام د راويښـولـو تـابيـا اوکړه نـو باچاخان د دې دپاره د نـوروجـلسـو او منډوترړو سره سره پښتون مجله هم اجراء کړه چي داسې خپل موقف قام ته ورسوي او په دوئ کښې د لوستلو عادتونه راپيداکړي. نو د باچاخان کارکنانو،ليکوالو اوملګرو د پښتو ادب تــه هـم تـوجـه ورکړه او د دې دپـاره ئې ډرامې، شـاعـرۍ او لـنډو قيـصو تـه وده ورکړه او دغـه صـنـفـونـو ډيره په تيزۍ ترقي اوکړۀ او ډير لوئې لـوئې ليـکـوال ئې پيـداکړل. ولې نـاول ته توجه ځـکـه ميـلاو نـه شوه چې ليکلو ئې هم ډير وخت غـوښتـلـو او لوستلو هم د ډير وخت تقاضه کوله. نـو هـم دا وجه وه چي ناول ته زياته توجه ميلاو نه شوه. ولې بيا هم ناول ليکلے کيدلو.

نـور مـحـمـد ترکي وړومبے طبعزاد ناول وليـکـلـو او ورپسې ئې څـلور نور اوليکل،داسې ورپسې رسـا صيب هم پينځه ناولونه وليکل او دا سلسله روانه شوه څۀ ډيره په دمه دمه.

مـحتـرم تـقـويـم الـحق کاکا خېل هغه د پيـنـځـه نـاولـونو ليکوال ته بيسيار نويس اوئيل ځـکـه چې دې اړخ تـه چـا توجه نه ورکوله. په دې وروستيـو وختـونـو کښې دې اړخ تـه زياته توجه ورګرځـولے شـوې ده او پـه افغـانستـان کښې د طبـعـزادو نـاولـونو سره سره ترجمې هم اوشوې د پښتـو پـنګــه ئې زيــاتــه کړۀ. پـه دې لړ کښې مـحترمې صفيه حليم هم ډير ناولونه ترجمه کولو سره لوئې خدمت کړے دے.

ولې بيــا يو داسې ليکوال هم پيدا شو چې تراوسه ئې نولس(19) طبعزاد ناولونه پښتو ادب تـه پيـرزوکړي دي، د دې ښـاغلي نامه پرويز شيخ ده. د دې مـحتـرم پـلارنے کلے چوراخېل بټه ګرام

تحصیل چارسده دے. ولې اوس په پېښور کښې استوګن دے. د دوي وړومبے ناول"توده بکره "په کال 88-1987 ء کښې چاپ او خور شوے وو. په دغه زمانه د الیکوال لکه د نورو پښتنو لیکوالو او تخلیق کارانو بې روزګارۍ په مخه کړے وو او چې کله ورته نوکري په لاس ورغله نو بیا ئې د پښتون قام د بچو روزنې ته ملا اوتړله او د هغوئ ذهني اوفکري تربیت ئې د خپل ژوند مقصد اوګرځول. دې ښاغلي په انګریزي ادب کښې ایم اے کړے وو او په سکول کښې ئې انګریزي ښودله؟ خو د بې روزګارۍ په وخت کښې یې بیا په اردوکښې هم ایم اے کړے و. په پښتو کښې چې ئې ارده اوکړۀ نو نوکر شو او بیا ئې د قام د بچو تعلیم ته مخۀ کړۀ او د نورو ډګریانو اخستلو اراده ئې پرېښودله.

محترم پرویز شیخ دګلبیلې هائي سکول پېښور نه په کال 2010 کښې ریټائرډ شو او چې کله ریټائرډ شو نو بیا ئې ناول لیکلو ته مخۀ کړۀ. قیصې او پلاټونه ډېر وو ځکه چې د پښتنو په مځکه،په هره کوڅه او محله کښې د پلاټونو او قیصو کموت نشته. بس ژور نظر او مشاهده غواړي او دغه پرویزشیخ ته الله ښه په اخلاص ورکړي دي.

محترم پرویزشیخ خپلې قیصې د خپل ماحول نه اخلي،د هغه کردارونه زمونږ په چاپیرچل کښې ګرځي او د پښتنو معاشرتي مسئلې ئې د خوښې موضوع ده. ځکه نو هغه د خپلې معاشري نه قیصه او مسئله اخلي پلاټ ترینه جوړوي اوقیصه لیکي. تراوسه پورې ئې نولس(19) ناولونه چاپ شوي دي.او نور پلاټونه ورسره د پریمانه دي.

محترم پرویزشیخ د ناولونو نه علاوه د انګریزي ادب سره اشنائي لري او یو کتاب ئې په انګریزي ژبه کښې هم لیکلے چې د شپیتو(60) پښتنو او دومره انګریزي ادب د نوموړو شاعرانو او لیکوالو تر مینځه ئې یوه ادبي مناظره کړې ده. دغه کتاب د لوستلو سره تعلق لري.

یوه د خوشحالۍ خبره دا ده چې اوس په پښتنو کښې هم د خپلو لیکوالو قدرولو اوارزولو رواج راګډ شوے دے او کومې کلي والې او سیمئزې ادبي ټولنې خپل لیکوال ارزوي هم داسې په تیرو ورځو کښې" دیر پښتو ادبي ټولنه "یوه غونډه جوړۀ کړه اوپه ټوله صوبه کښې ئې لیکوالان و ارزول او وقدرول. په دغه خوش نصیبو کښې ښاغلے پرویز شیخ هم شامل وو او د دوي یو ناول ته د غوره او ښۀ ناول ایوارډ ورکړے شو.

الله دې د پښتود باغ د دې مالیار عمر ډېر او د قلم خواږه سیوا کړي چې د خپلې مورنۍ ژبې پنګه نوره هم درنه کړي او د قام په ذهني روزنه او فکري فراختیا کښې خپله ونډه واچوي. او پښتون قام د مستقبل په تعین کښې د ذهن عطر وشیندي او لوستونکو ته خپل منزل په ګوته کړي. د ذهني تعیش سره سره ذهن روښانه هم کړي. او داسې نور قلم کاران دې میدان ته د راښکلو سوب شي.

☆☆☆